نجیب منلی

۲۰۱۸/۰۱/۰۲

# که زه کاندید وای
## د کوچیانو مېشتېدل

کوچانی ژوند د انساني ټولنو د ژوند یوه ډېره پخوانۍ او اغیزمنه لار وه چې د بشري مدنیتونو په جوړولو او ورته په شکل ورکولو کې یې خورا مهم رول لوبولی دی. له کوچاني ژوند څخه د مېشت ژوند پر لور بدلون هم د بشري مدنیت د شکل اخیستلو یوه لار ده چې د تاریخ په اوږدو کې انساني ټولنو خپله کړې ده.

د کوچاني ژوند یوه مشخصه دا ده چې د لیږد، رالیږد په پروسه کې د حکومتونو د واک ساحو ته په کې ډېره پابندي نه وي. کله چې دولتونه وغواړي چې په خپل قلمرو کې د وګړو پر ګرزېدو کنټرول ولري نو د کوچیانو د تګ راتګ د ازادۍ د محدودولو هڅه کوي. په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې استعماري قوتونو په شدت سره کوچیان و ځپل او عام وژنې یې په کې وکړې (د منځني ختیځ، افریقا، امریکا، اروپا، آسیا او استرالیا د وګړو تاریخونه د ګڼو دا ډول پېښو شاهدي وایي). د نژادي تفوق غوښتونکو سیاسي او ټولنیزو ډلو (لکه په اروپا کې نازي المان) کوچي وګړو ته په ټیټه سترګه کتل. په افغانستان کې هم متعصبې کړۍ هڅه کوي چې د کوچیانو د ژوند طرز غیر مهذب وبولي. د کوچیانو د مېشتولو استبدادي طرحې د دغو شرایطو زېږنده ده.

له بل لوري، یو شمېر دولتونو چې د خپلو سرحدونو د ساتلو په پار یې د کوچیانو د تګ را تګ ازادي سلبوله او په عین حال کې یې د ګاونډیو پر وړاندې د خپلو سرحدونو خوندي کول غوښتل، د کوچیانو د مېشتولو هڅې یې کړې دي.

په شلمه پېړۍ کې د کوچیانو د مېشتولو پروسه وګړو ته د دولت له خوا د لازمو خدماتو (روغتون، تعلیم،...) د رسولو اسانتیا بلل شوې ده. د افغانستان اساسي قانون هم په څلېرشتمه ماده کې په تلویحي ډول همدغه «د ژوند د چارو سمول» د کوچیانو د مېشته کولو نتیجه بولي : « دولت د کرنې او مالدارۍ پراختیا، د بزګرانو او مالدارانو د اقتصادي ټولنیزو او د ژوند د شرایطو د ښه کولو او د کوچیانو د مېشتولو او د دوی د ژوند د سمون لپاره د دولت د مالي توان په حدودو کې اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیقوي.»



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

له بده مرغه غرض لرونکي کړی قومي ستونزې د قدرت د لاسته راوړلو له پاره په اوزاري ډول کاروي. د کوچيانو او مېشتو وګړو تر منځ ستونزې هم په تېرو کلونو کي د ناولو سياسي اهدافو له پاره کارول شوي دي. په کار ده چي د کوچيانو مېشتېدني ته د هېواد د يو مهم لومړيتوب په خيث وکتل شي او د هېواد د پرمختګ له پاره تري کار واخيستل شي.

په افغاني ټولنيز اقتصاد کي د کوچيانو ونډه عموماً په دريو برخو کي وه: ترانسپورتي وسايل (اوښان) تر ډېره له کوچيانو سره وو نو د سوداګرۍ په پراختيا کي کوچيانو مهم نقش درلود؛ د حيواني محصولاتو (غوښو، لبنياتو، پوستکو او وړيو) د توليد يوه عمده برخه کوچيانو تامينوله او د ورشوګانو د طبيعي محافظت چارې د کوچيانو پر غاړه وې.

د توکيو د لېږد رالېږد معاصرو امکاناتو، د لويو (ځمکنيو، سمندري او هوايي) لارو پراختيا، اوس د انتقالاتو په برخه کي د کوچيانو ونډه تقريباً حذف کړې ده؛ د حيواني محصولاتو نړېوال تجارت کوچيان په داسي يو ناسالم او نا برابر رقابتي جال کي ايسار کړي دي چي د کوچاني اقتصاد شتون يي هم په خطر کي اچولی او بالاخره د ځمکو ناسم مديريت، د ملي شتمنيو سيستماتيک غصب او پر قومي اړيکو بې رويې سياسي سوداګرۍ د دې باعث شوې چي د ورشوګانو تر ساتلو، د کوچيانو او «ده شينو» تر منځ شخړې ورځ تر بلې د يوې ملي معضلې بڼه غوره کوي. له همدې امله، که په تېرو وختونو کي د کوچيانو د مېشتېدو سياسي، ټولنيز، جيوپوليتيکي شرايط هر څه وو، نن دا موضوع د ټولنيز عدالت او د د ملي اقتصاد د ثبات يوه بنسټيزه موضوع ده.

د نوي اساسي قانون تر تصويب راوروسته، د هېواد امنيتي، سياسي او اقتصادي ناروغ حالت او په ډېرو ملي مسايلو کي د پرله پسي حکومتونو انفعالي دريځونودي ته اجازه نه ده ورکړې چي د کوچيانو د مېشتېدو په برخه کي د پام وړ پرمختګ و شي. د ۲۰۱۰ کال په پسرلي کي چي په بهسودو ولسوالی کي د کوچيانو او ځايي خلکو تر منځ ستونزې راولاړې شوې، د وخت ولسمشر د خپلو پوپوليستي ځرګندونو او پرېکړو په بهير کي دا هعم وويل چي کوچيانو ته بايد ځمکي وويشل شي خو خبره د خبرو په حد کي پاتې شوه.

د کوچيانو د مېشتيدلو موضوع يوه ملي اساسي مسئله ده چي جامع حل غواړي. دلته بايد د اساسي قانون د يو حکم د پلي کېدو تر څنګ د ټولنيز عدالت تطبيق، د همغږي او پرمختلونکي ملي اقتصاد غوښتني، د بشري منابعو اغيزمن مديريت، ملي منافعو او د چاپېريال ستونزو ته په کتو د ځمکو سالم مديريت، او د افغانستان د فرهنګي تنوع او ارزښتونو ساتل هم مهاله په نظر کي ونيول شي.

تر هر څه لومړی، په کار ده چي د افغانستان د غذايي خونديتوب د ملي سياست په چوکاټ کي په هېواد کي د مالدارۍ اړتياوې او فرصتونه په دقيق ډول و ارزول شي. تر جنګ د مخه په افغانستان کي د اهلي حيواناتو شمېر د دېرش مليونو شاوخوا اټکل شوی و. پرله پسي جنګونو، وچکاليو او مهاجرتونو او د نړۍ په کچه د غذايي صنعت او تجارت پراختيا دغه شمېر په هېښوونکي ډول راکم کړی دی.

افغانستان د دېرش مليونه هکتاره ورشوګانو په درلودلو، کولای شي چي د حيواني محصولاتو په برخه کي نه يوازې دا چي پر ځان بسيا شي بلکي بهر ته د حيواني محصولاتو صادروونکی هېواد هم کېدای شي.

د چاپېریال ساتنه، د افغانستان د جغرافيي طبیعي ښکلاوو او شتمنيو ته لازمه پاملرنه، د توریزم د صنعت لازمه وده، د اوبو سم مدیریت، د جنتيکي تنوع ساتنه، د ملموسو او ناملموسو فرهنګي شتمنيو خونديتوب او دې ته ورته موضوعات هغه څه دي چې هم مهاله توجه غواړي او د يو کثيرالبعدي، جامع، پراخ او نوښتګر سياست غوښتنه کوي.

د کوچيانو د مېشتېدلو له پاره په څو جهتونو کې د پام وړ پرمختګ کېدای شي:

۱ – د کوچيانو د مېشتېدلو ملي برنامه

موجود سياسي، ټولنيز شرايط نور دا اجازه نه ورکوي چې کوچاني ژوند په عنعنوي توګه د اوږدې مودې له پاره باقي پاتې شي. د ټولنيزو او فرهنګي بدلونو په عمومي شرايطو کې به کوچاني ژوند په طبيعي ډول نوې بڼه غوره کوي. نن د افغانستان د وګړو شاوخوا نيمايي، د خپل معيشت د تامين له پاره، به يو ډول نه يو ډول د ځمکې او ژويو پر محصولاتو متکي دي. په اروپا کې دغه تناسب په سلو کې پينځه دی. افغانستان کې به هم په راتلونکو دوو يا دريو لسيزو کې دغه شمېر د لسو او شلو فيصدو ترمنځ يو حد ته راټيټ شي. له همدې امله د افغانستان د ملي اقتصاد ماهيت بدلېدونکی دی او ورسره د کروندګرو او پونده وو شمېر کمېدونکی دی. حکومت بايد له کرنيز سکتور څخه صنعتي او خدماتي سکتور ته د اقتصادي اړيکو د لېږد له پاره يو منظم پروګرام ولري.

۲ – د کرنيزو ځمکو او ورشوګانو مديريت

د افغانستان د کرنې وړ ځمکې شاوخوا لس مليونه هکتاره اټکل شوې دي چې اوس يې په څلورو کې ايله درې برخې عملاً کرل کېږي. د تخنيکونو پرمختګ او د ځمکو ښه مديريت کولای شي چې په نېږدې راتلونکې کې تر پينځلس مليونو هکتارو پورې ځمکې تر کرنيز پوښښ لاندې ونيسي. له بل لوري د هېواد د ټولو ورشوګانو مساحت شاوخوا دېرش مليونه هکتاره دی. د اقليم بدلېدل، د وګړو د شمېر زياتېدل، د اقتصادي بنسټونو تحول به په راتلونکو دوو لسيزو کې دا شمېر شل په سلو کې را ټيټ کړي خو د افغانستان اوږدمهالې ګټې ايجابوي چې په هر قيمت چې وي د ورشوګانو مساحت بايد تر پينځه ويشتو مليونو هکتارو ډېر ښکته نه شي.

د ورشوګانو ساتل او خوندي کول په طبيعي ډول مالدارۍ ته اړتيا لري.

د پوونده وو او کروندګرو تر منځ د ګاونډيتوب لانجې د بشري ټولنې يوه طبيعي، تلپاتې ستونزه ده چې يوازې د محلي تفاهم او منځګړيتوب له لارې حل کېدای شي خو د دې دواړو ټولنيزو کتلو تر منځ د تماس ساحه هم دقيق مديريت ته اړتيا لري. د کوچيتوب نوي شرايط کولای شي چې د دغو شخړو او لانجو وسعت خورا محدود کړي. د بېلګې په توګه کله چې د لېږد پر مهال د پونده وو رمې د مېشتو وګړو د کروندو تر څنګه تېرېږي نو د کروندو د خرابېدو وېره په خپله د دواړو ټولنو تر منځ د بې باورۍ فضا رامنځ ته کوي. د حمل او نقل اوسني وسايل دا شونې کوي چې په زرګونو سره څاروي په لږ وخت کې اوږد واټن ووهي او دې ته اړتيا نه پيدا کېږي چې په ورځو او اونيو، د کيلومترونو په اوږدو کې لېږدېدونکي څاروي د مېشتو وګړو فصلونه وګوابني.

عموماً ورشوګاني د غرونو په لوړو برخو کې، چې هلته نه د کرکيلې د پام وړ امکانات شته او نه د ښاري تراکم زمينه په کې مساعده ده، پرتې دي. په ډېر ساده ډول کېدای شي چې د عنعنوي لېږد پر لارو، څو داسې ورشوګانې په نخښه شي چې د کال په مشخصو وختونو کې، په مشخص شمېر څاروي ورته په لاريو کې راوړل شي او د يوې

مشخصي مودي له پاره په کې پاتې شي. د دې له پاره کافي ده چې ورشوګانې د سترو ملي پارکونو په بڼه پراخې شبکې کې د دولتي ملکیتونو په توګه تنظیم شي. د دغو ورشو ګانو د ساتلو، پاللو او تنظیم له پاره کېدای شي چې په هر ملي پارک کې د کوچیانو ځو کلي مېشت شي چې وظیفه یې له ورشوګانو څخه د اغیزمنې ګټې اخیستې د شرایطو برابرول وي.

۳ – د مالدارۍ مدیریت

افغانستان کولای شي چې د مالدارۍ د یوې منظمې او معقولې پالیسي په درلودلو، نه یوازې د حیواني محصولاتو له درکه پر ځان بسیا شي، بلکې کولای شي یوه برخه دغه محصولات بهر ته هم صادر کړي.

په کلیوالي سیمو کې چې هم د تګ راتګ امکانات پراخه وي، هم د اوبو ستونزه نه وي او هم بازار ته لاسرسی په کې اسانه وي تراکمي مالدارۍ (Intensive Grazing) ته زمینه برابرېدای شي. په جنوبي افغانستان کې د ملګرو ملتونو په مرسته پلې شوې ځینې پروژې ښیي چې دا ډول مالداري د یو شمېر کوچیانو د مېشتېدنې له پاره مناسب موډل جوړوي. په دې موډل کې ستره ستونزه دا ده چې د افغانستان په جغرافیه کې په دې شرایطو برابرې ځمکې، چې مخکې له مخکې اشغال شوې نه وي، خورا کمې دي. که د سیندونو د مهارولو د پروګرام په ترڅ کې شاړې ځمکې ابادېږي نو د کوچیانو مېشتېدنه یې باید په لومړیتوب کې راشي.

په پراخه مالدارۍ (Extensive Grazing) کې پراخو ورشوګانو ته اړتیا ده. که د افغانستان د مالدارۍ اوسني ارقام په نظر کې ونیول شي او د ورشوګانو مدیریت ته لازمه پاملرنه وشي نو ممکنه ده چې شاوخوا یو ملیون کوچیانو ته د «نیم مېشت – نیم کوچي» ژوند موډل وړاندې شي. په دې موډل کې بېژندل شوې کوچي ټولنې د مشخصو څرځایونو سره تړل کېږي. هرې ټولنې ته د دوبي او ژمي له پاره جلا جلا ورشوګانې د دولت له خوا ورسپارل کېږي. د دغو ټولنو یو شمېر وګړي په دایمي ډول د ورشوګانو د ساتلو او پاللو له پاره په اړوندو ورشوګانو کې مېشتېږي او شمېر وګړي د څارویو اړتیاوو ته په کتو د دوو یا څو سیمو تر منځ تګ راتګ کوي او د لارې په اوږدو کې خپلې «مېنې» جوړوي. هر دغه ډول کلی د دولتي او ټولنیزو خدماتو یو منظم لېږدېدونکی سیستم لري. د مېنو ملکیت به له دولت سره وي او کورنیو ته به په اوږد مهاله اجاره ورکول کېږي. څاروي او کډې به د مېنو تر منځ په موډرنو انتقالاتي وسایلو لېږدول را لېږدول کېږي.

د مالدارۍ د کوپراتیفونو تشکیلول به د دغو وګړو اقتصادي بنسټونه پیاوړي کړي.

۴ – له مالدارۍ پرته د کوچیانو اقتصادي فعالیتونه

د کوچیانو لاسي صنایع (غالۍ او ټغر اوبدل، د جامو او ګاڼو تولید، ...) او د حیواني محصولاتو پروسس کول د مالدارۍ یوه څنګزنه څانګه ده چې د منظمو ترانسپورتي خدمتونو په درلودلو کېدلای شي چې په مېشت چاپېریال کې فعالیت وکړي. دغو وګړو ته باید ښارونو ته څېرمه په صنعتي پارکونو کې د فعالیت زمینه برابره شي.

په عنعنوي توګه یو شمېر کوچیان د سوداګرۍ او د اجناسو د لېږدولو په چارو کې بوخت دي. هغوی، که لا هم ځینې کوچاني ارتباطات او د ټولنیز پیوستون اړیکي ساتلي وي، تر ډېره له مودرنو وسایلو کار اخلي او په اسانه ښاري

ژوند ته مخه کولای شي. د دې ډلې مېشتېدل تقریباً په طبیعي ډول کېږي خو کېدای شي چې یوه هڅوونکې دولتي پالیسي دا ډول مېشتېدنه چټکه کړي.

دا هم شوني ده چې دغه وګړي بازار ته د مالدارۍ او د لاسي صنایعو د محصولاتو په وړاندې کولو کې ونډه واخلي.

۵ - د چاپېریال مدیریت

د چاپېریال ساتل که له یوې خوا دا ایجابوي چې طبیعي زېرمې باید د انسانانو له بې رویې مداخلې وژغورل شي، له بلې خوا دا هم غواړي چې ټول انسانان وکړای شي په مناسبو شرایطو کې له طبیعي ښکلاوو او شتمنیو ګټه واخلي. که د چاپېریال حفاظت او له چاپېریال څخه اقتصادي ګټه اخیسته بېل بېل په نظر کې ونیول شي نو په دواړو برخو کې ستونزې راولاړېږي (د اساني ګټې غوښتونکي متشبثین د خپلو آني منافعو له پاره چاپېریال تخریبوي، د چاپېریال ساتونکي هڅه کوي چې د متشبثینو د پرمختګ مخې ته مختلف خنډونه رامنځ ته کړي)

د ملي پارکونو جوړول، د ملي پارکونو د ساتنې له پاره روزل شوي کسان ګومارل او په ملي پارکونو کې د توریستي او سپورتي فعالیتونو له پاره لازمي زېربناوې ایجادول د چاپېریال د مدیریت یوازینۍ لاره ده. په دې توګه هم د آفاتو مخه نیول کېږي (اور، سېلاوونه، د ځمکې ښویېدل، غصب، ناوړه انساني مداخلې...) او هم په اقتصادي ژوند کې د چاپېریال د شاملولو له لارې ممکنه ده چې د چاپېریال ساتنې له پیاره لازم مالي منابع هم تر لاسه شي.

پورته موضوعاتو ته په کتو، که د کوچیانو د مېشتېدلو موضوع ته د یوې ننګونې پر ځای د یو فرصت په سترګه ولیدل شي، د ملي ژوند دغه مهمه چاره په پراخ اقتصادي-ټولنیز چوکاټ کې وارزول شي نو هم د کوچیانو ستونزه حل کېږي او هم له دې لارې د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کې خورا اغېزمن ګامونه پورته کېدای شي.

## یادونه:

که چیرې ګران لوستونکی و غواړی چې د دی لیکوال نوری لیکنی هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!